AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

دوکتور محمد عثمان تره کی
۲۰۲۶ / ۰۴ / ۱۹

# د ترهګرۍ په پلمه د پښتنو او بلوڅو د آزادۍ غوښتونکو جنګیالیو ډله ییزه وژنه

په تېرو شلو کلونو کې په پښتونخوا او بلوچستان کې د پاکستاني پوځ او امنیتي ادارو پر ضد د وژنو، جبري لادرکه کولو، شکنجې، او بې محکمې مجازاتو تورونه د بشري حقونو نړیوالو ادارو، سیمه ایزو فعالانو، او د پښتون ژغورنې غورځنګ له خوا بار بار مطبوعاتو ته راپوروونه وړاندي شوی دی. پدي لیکنه کي د پاکستان پوځ د هغو جنایتونو پرده پورته کوو چی قربانیان یي پښتانه او بلوچان دي.


**- خیبر پښتونخواه : ۱**

- د ملګرو ملتونو او نورو بشري سرچینو د راپور له مخې په وزیرستان، سوات، باجوړ او پخوانی قبایلي سیمو کې زرګونه کسان د کورونو او چک پوسټونو څخه نیول شوي او بیا ورک شوي دي.

د لادرکه کسانو د پلټنې دولتي کمېسیون ته له ۲۰۱۱ راهیسې زرګونه شکایتونه رسېدلي، خو د ډېرو برخلیک لا هم نامعلوم دی.

- د ترهګرۍ ضد عملیاتو پر مهال ګنشمیر دوسیي شته چې ځینې کسان له نیول کېدو وروسته وژل شوي او ورپسې د سیاسي اغراضو له امله « ترهګر » بلل شوي.

پاکستاني پوځ په خیبر پښتونخوأ کي د عملیات المیزان ( جنوبی وزیرستان ۲۰۰۲ – ۲۰۰۶ )، راهِ حق ( سوات ۲۰۰۷ – ۲۰۰۹ )، راهِ نجات (جنوبي وزیرستان ـ ۲۰۰۹)، ضرب عضب ( جولای۲۰۱۴ )، خیبر عملیات ( ۲۰۱۴ ـ ۲۰۱۵ ) او ردالفساد ( ۲۰۱۷ ) تر نومونو لاندی د وحشت نه دک پوځي عملیات ترسره کړ، چي له امله یي ډېر کلي، بازارونه او کورونه زیانمن او لږ تر لږه لس ملیون پښتانه بې ځایه شوي. د تلفاتو شمیر ملیونونو ته رسیږي.



- د مدني لاریونونو پر مهال د امنیتي ځواکونو له خوا په مظاهره چیانو باندي د ډزو، نیونو او فشار پیښی راپوروونه په کرات مدیا ته سپارل شوي.

پاکستاني پوځ او استخبارات زیاتره دا عملیات **د ترهګرۍ ضد جګړې** برخه بولي. خو د بشري حقونو مدافع اورګانونو ټینګار کوي چې **د امنیت په نوم قانون تر پښو لاندي کیږې او د پاکستان پوځ په خلاص لاس په جنایت لاس پوري کوې.**

د بشري حقونو سازمانونه د پښتنو یو شمېر مشهور سیاسي او مدني فعالان نومونه یاد کړې چي **د پاکستان د امنیتي ادارو له لوري** د هدفمند ترور او جبري **لادرکه کېدل قرباني شوي. ده :**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**عارف وزیر، ارمان لوڼی ، ګیله من وزیر  او نور اسلام داوړ ( پښتون ړغورني غورځنګ په تړاو ). عثمان کاکړ** ( د پښتونخوا ملي عوامي ګوند مشر).

**نور  پېژندل شوي کسان چې د فشار، نیولو یا لا درکۍ سره مخ شوي دي :**

**منظور پښتین، محسن داوړ،** علي وزیر او افراسیاب ختک .

**۲ ـ بلوچستان :**

د بلوچستان په اړه  د  ۲۰۲۰  څخه تر  ۲۰۲۶ کلونو پورې د تلفاتو  شمېرې تر ټولو مستندې دي، ځکه چې راپورونه د نړیوالو ادارو لکه د ملګرو ملتونو د کډوالو د اداري  له خوا خپاره شوي دي.

په ۶ وروستي  کلونو کې په بلوچستان کې د پوځ او آزادي غوښتونکو ډلو تر منځ د جګړې له امله **په زرګونو کسان وژل شوي.**

د بې کوره شویو خلکو دقیق شمېر نشته. خو د جګړې د شدت له مخې **په لسګونو زره کورنۍ** اغېزمنې شوې دي.

**په همدې موده کې د وړل شویو ملکیانو او وسله والو شمیر  ۲۴۱ او د کډوالو شمیر  ۲۰۰۰ کسانو ته رسیږي (دغه شمیر د پاکستان د رسمی اورګانونو له خوا ورکړ شوي. واقعی تلفات او کډوال زیات اټکل کیږي ) .**

د تېرو شلو کلونو په موده کې د پاکستان د پوځ او امنیتي ادارو له لوري د **بلوڅ ملتپالو او ازادۍ غوښتونکو د "هدفمند ترور" یا وژنو** څو ډېر مشهور او پېژندل شوي کسان چې د بلوچو ملتپالو، بشري حقونو فعالانو او نړیوالو رسنیو پېښې پوځ او استخباراتو سره تړلي دا دي :

**نواب اکبر بګټي ،** بالاچ مري،   **غلام محمد بلوچ، لاله منیر بلوچ، شیر محمد بلوچ،** حبیب جالب بلوچ، عبدالنبي بنګلزئي او کربان بلوچ .

د یادونې وړ ده چې د بلوچستان د شخړې په ډېرو پېښو کې سیاسی فعالین ورک او وروسته یې مړي پیدا شوي. **د سیاسي فعالینو په ترور کې د آزادۍ غوښتونکو جنګیالیو د وژني شمیر چې لسهاو زرو ته رسیږي، شامل ندي.**

بشري حقونو ادارو د پاکستان پوځ او استخباراتو د بربند جنایتونو په اړه وار وار اندېښنه ښودلې ده. خو پېښې هیڅکله **رسمي عدلي پایلې ته نه دي رسېدلې.**

**پایله :**

ـ د پاکستان پوځ د انګریز د ښکیلاک د ښوونځي یو پاتې شونی بنسټ دی، چې د تاوتریخوالي، دسیسو، د قدرت د غصب او کودتاوو په چاپېریال کې روزل او پیاوړی شوی دی. له داسې ځواک څخه چې دولتي تروریزم د خپله بقأ د لاسوند په توګه کاروي او د خپل ولس پر وړاندې د وژنې سابقه ولري، دا تمه کول چې د ښه ګاونډیتوب اصول به له افغانستان سره مراعت کړي، یو بې ځایه او بې‌بنسټ انتظار دی.

ـ پوځ د خپل بې‌وزله ولس په لګښت یوه پراخه اقتصادي امپراتوري اداره کوي، چې اغېزمنه شبکه یې د پاکستان له جغرافیایي حدودو څخه بهر هم غځېدلې ده. دغه ځواک خپل بقا د همدې امپراتورۍ له دوام سره تړي او بې له ځنډه هغه وګړي چې د آزادۍ غوښتنه کوي د « بغاوتګرو» تر نامه لاندې وړني.

ـ پر ملکي تأسیساتو او عامو خلکو پرله پسې بریدونه او په ځانګړي ډول د روږدو کسانو پر درملنیز مرکز برید، په ډاګه کوي چې د پاکستان پوځ د خپلې اقتصادي امپراتورۍ د ساتنې په موخه د نړیوال حقوق د مراعت کولو هېڅ ډول التزام نه لري.

ـ  افغانستان یوازې هغه مهال کولای شي د پاکستان د تېري پر وړاندې اغېزمن او سنجول شوی مقاومت ترسره کړي، چې د قواوو توازن په نسبي ډول د خپل لوري په ګټه واړوي. دا غوښتنه هغه وخت تحقق مومي چې افغانستان له نړیوال انزوا څخه راووځي او خپل دفاعي پوتانسیل په بنسټیز ډول پیاوړی کړي.

« پای »



آرشیف: مطالب نشر شدۀ دوکتور محمد عثمان تره کی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ